**د خیرخانې ۱۰۲ بستریز روغتون:**

د عامې روغتیا وزارت اړوند د خیرخانې ۱۰۲ بستریز روغتون د کابل ښار د خیرخانې په سیمه کې موقعیت لري او عامو خلکو ته بېلا بېلو برخو کې تخصصي روغتیایي خدمات وړاندې کوي.

دغه روغتون د داخل بستر (IPD) او خارج بستر (OPD) خدمات لري، چې په کې نسایي او ولادي، د ماشومانو داخله، عمومي داخله، جراحي، د ماشومانو خوارځواکۍ درملنه، غوږ، ستوني، واکسین، الټراسونډ او رواني روغتیا برخې شاملې دي.

د خیرخانې ۱۰۲ بستریز روغتون له ۱۳۰ فعاله بسترونو او معیاري طبي تجهیزاتو څخه برخمن دی. د عامې روغتیا وزارت د معلوماتو له مخې، د روان کال په ترڅ کې په دغه روغتون کې ۵۰۲٦ جراحي عملیات ترسره شوي او څه باندې ۱۷۱ زره مراجعینو د OPD او ۲۰ زره څخه زیاتو ناروغانو ته د IPD روغتیایي خدمات وړاندې شوي دي.

د یادونې وړ ده، چې یاد روغتون د کابل ښار اوسېدونکو لپاره یو مهم روغتیایي مرکز بلل کېږي، چې په پورته ذکر شویو برخو کې هېوادوالو ته ۲۴ ساعته روغتیایي خدمات وړاندې کوي.